# ژبه او د ژبې لیکونکي

ځکه چې په ګران هیواد کښې هره ورځ پښتو ژبه خپرېږي، او د مېنې پوهان هم دې خواته زښته ډېره پاملرنه کاندي، نو مونږ وینو چې شا و خوا ځلمي او د لیک او لوست خاوندان د ژبې پالنې ته ځیر دي، او هر څوک پخپله اندازه خدمتونه ورته کوي.

زما مطلب په دې لیک کښې دا دئ چې د ژبې د ښاغلو پالونکو سره یو څو خبرې او د زړه خواله وکم، او دا هیله لرم چې زمونږ ښاغلي لیکونکي چې زما په عقیده د ژبې لمړني پالونکي دي دا زما ویناوې واروي او وئې وایي.

لمړی خو دا وایم چې لیکونکي د ژبې حقیقي پالونکي دي ځکه چې دوی د ژبې ادبي ذخائر او پانګې غونډوي، او په خپلو آثارو کښې ئې راتلونکو پښتنو ته پرېږدي، نو په هغه اندازه چې دوي د ژبې په پالنه کښې هسک مقام او ستر موقعیت لري هغومره هم د دوي ادبي مسئولیت ډېراو خورا لوړ دئ.

د ژبې تاریخ او د پښتو د ادب تاریخ دغه لږو ډېر توري چې مونږ ئې نن په اخبارونو او مطبوعاتو کښې لیکو ښه ئې ساتي.

لکه اوس چې مونږ د درو څلورو پېړیو یو دوه کرښې چې چا په پښتو لیکلي وي پلټو، او غواړو چې د هغو نومونه د پښتو د ادب په تاریخ کښې خوندي کړو، دغسې هم دغه زمونږ یو څو توري چې را ځخه لیکل کیږي په آینده کښې ډېر قدر مومي، او ډېر په درناوي

ليدل کيږي. نو ښايي چې اوسني ليکونکي يا په بله ژبه د پښتو پالونکي په خپلو ليکنو کښې ډېر خير او محتاط او دقيق وي.

نن موږ ځيني خلک وينو چې ژبه د خپلو معلوماتو په محدوده او تنګه دائره کښې محصوره کوي، او که څوک له هغې دائرې څخه چې دوی ځان ته مخصوصه کړې ده تجاوز وکړي، يا دا چې د يو بل قوم لغت يا محاوره واخلي نو دوی هغه غلط وايي.

داسي اکثر خلک د ژبي له ادبه څخه برخه نه لري، او د ژبي ابتداء او ارتقا او زاړه ادبيات نه دي ورښکاره، نو دوی چې څه ناقص معلومات لري فقط هغه د ژبي د ادب معيار او مدار ګرزوي.

مګر حقيقت خو دا دئ: چې ژبه د يوه سړی يا يوې ډلي نه ده، ژبه خو عامه ده، او د عام پښتون مال ده، نو که ئې زموږ ليکونکي په يوه تنګه دائره کښې محصوره کړي، دا خو به ښه نه وي. زموږ ژبه ډېر ذخائر او پانګې لري دا پانګې په زاړه ادب او زړو آثارو کښې دي په غرو او رغو کښې دي، په کلو او بيدياو کښې دي، موږ بايد دا ګران بها پانګې له لاسه ونه باسو ښايي چې راټولې ئې کړو، ښايي زوړ ادب پسې ولټو، ښايي چې غرونه او رغونه پسې وغواړو، چې د ژبي دا پانګې ومومو، او که چا څه ميندلي وي نو نه ښايي چې د خپلو لږو معلوماتو پر محک ئې ووهو، او که مو نه وه زده نو غلط ورته ووايو.

د پښتو ژبي لغات بې شمېره په بيديا او غرو کښې سته، ښې محاورې سته، پاخه پاخه اصطلاحات سته، خواږه خواږه ادبيات سته، ادبي ليکلي آثار سته، د زاړه ادب غوره نمونې سته، مګر دا ټولې په پراخه سينه او ارته حوصله پلټنه او منډه غواړي.

د پښتو ادب ته تر اوسه چا توجه نه ده کړې، چا زيار نه دئ پکښې کښلی، څوک نه دئ پسې ګرزېدلئ، که نه وي د پښتو ادب خو تر يو زر کاله پوري غوره آثار لري، کې موږ ولټو خو په لاس به



راسي. په دې ادبي آثارو کښې خورا غنيمت مواد سته، چې زموږ ژبه را بشپړه کوي هم د لغت له خوا، هم د محاورې او فصاحت او وسعت له پلوه.

موږ ليکونکي يا د ژبي پالونکي که په ليک او ادب کښې فقط پر خپلو معلومات ويسا وکړو او د ژبي زوړ ادب او خپاره مواد پرېږدو، نو به داسي وي لکه چې سړی له ټولي نړۍ څخه فقط په خپله کوټه کښې خپل معلومات محصور کړي.

هوکې! ټوله نړۍ مې وويله مطلب مې هم دا و چې د پښتو ژبه له نړۍ هغوني ارته ده، ډېره لو لمن لري، زما چې پښتو مورنۍ ژبه ده هم که زيار وکاږم، د ښار په چاپېر کښې د ورځې تر سلو پوري نوي لغات له دغو خلقو څخه اروم، چې پخوا مې نه دي اورېدلي. نو چې ژبه دومره ارته ده، او هغسې مفصل ادبيات لري نه ښائي چې يو سړی ئې د خپل ذوق او خپلو معلوماتو په خند کښې حصر کي. ښايي چې ليکونکي او د ژبي پالونکي زيار وباسي چې ژبه د ادب او بلاغت له پلوه ارته سي، او په دې لار کښې د عامو خلکو او عامو پښتنو محاورې، لغات، اصطلاحات او زوړ ادب وپلاټه سي، او په اوسني ليک کښې مو ټوله د ژبي ښېګړې او ارتوالی خرګند وي، د پښتو په زاړه ادب کښې ډېر سپېڅلي او ګرانبها مواد سته، چې اوس ئې پر ليکونکو باندې بيا ژوندون او خپرول لازم دي. ډېر سپېڅلي لغتونه، او خوږې محاورې يوه ډله لري، چه ها بله ډله ئې نه لري، ادباء او ليکونکي چې د ژبي پالونکي دي دغه مواد او ښېګړې چې هر ځای ووينې، اخلي به ئې او د ژبي لمن به ور ارتوي او په دې خوا کښې به د ژبي ارت خند پر ځان نه تنګوي.(۱)

(۱) کابل مجله. ۱۳۱۹ کال. ۹ ګڼه، ص ۱۳ _ ۱۵